شریعت
ورځپاڼه

د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

د تأسیس کال ۱۳۷٤ هـ.ش/ دوهم پړاو / ۷۹۸ ګڼه / چهار شنبه د محرم‌الحرام ۱۳ مه ۱٤٤۷ هـ.ق / د چنګاښ ۱۸ ۱۴۰۴ هـ.ش / د جولای ۹ مه ۲۰۲۵ میلادي

مجاهد: د نړیوالې محکمې په نــوم کـوم بنسټ نه پېژنو

د اسلامي امارت ویاند مولوي ذبیح الله مجاهد رسـنیو ته په یوه لیږلي غږیز پیغام کـې د نړیوالې محکمې وورسـتی څرګندونـې غندلـې دي.

مولـوي ذبیـح الله مجاهـد ویلي چې د اسـلامي امارت د مشـرانو پـر وړانـدې دا ډول څرګندونـې د

اسـلامي امارت په کلـک هوډ او شـرعي هوډ هېڅ ډول اغېز نه‌شـي کولی.

ښـاغلي مجاهـد وړانـدې زیاته کړې: «مـوږ د نړیوالـې محکمې پـه نـوم او عنـوان هېڅ نهـاد نه پېژنـو او نـه کـوم التـزام ورتـه لرو.» ۲مخ

د نیمروز والي د راستنېدونکو کډوالو د وضعیت ارزونه کړې

د نیمروز والي شـیخ محمد قاسم خالد او د ریاسـت‌الوزراء د دفتر مرسـتیال تېره شـپه په وریښـمو پلـه کـې د راسـتنېدونکو افغان کډوالـو لپـاره د خدمتـي کمپتو د چـارو لـه بهیـره څارنـه کړې ده.

د یاد ولایت د رسـنیو دفتر ویلي، په دې لیدنه کې د اسلامي امارت او ملي سـوداګرو له لوري د برابر شوي خوراکي او غیرخوراکي توکو او دغه راز د راستنېدونکو... ۲مخ

واکنش ا.ا به تصویب پیش‌نویس قطعنامه مجمع عمومی سازمان ملل در مورد افغانستان

وزارت امور خارجه ا.ا افغانسـتان به تصویـب پیش‌نویـس قطعنامه نشسـت اخیـر مجمـع عمومـی سـازمان ملـل متحـد در مـورد افغانسـتان واکنـش نشـان داده است.

عبدالقهـار بلخـی، سـخنگوی وزارت امور خارجه با نشر بیانیه‌ای موضع‌گیـری ا.ا افغانسـتان در قبال ایـن پیش‌نویـس را بیان کرده است.

وزارت امـور خارجه گفته اسـت: تصویب چنیـن قطعنامه‌هایی که بر اسـاس اطلاعات نادرسـت، فشار سیاسـی، برخوردهای مغرضانه و نقض حقوق بشـر اسـتوار است، نه تنهـا از اصـول و منشـور ملل متحد دور اسـت، بلکـه در تقابل بـا ارزش‌هـای واقعـی و عملکرد امـارت اسـلامی نیـز می‌باشـد. بـه گفتـه سـخنگوی وزارت امور خارجه، تصویب این‌گونه اسـناد نه تنها کـه کمکی به بهبـود وضعیت افغانستان نمی‌کند،... ص۲

د عامې روغتیا وزارت د نیمه‌پاتې پروژو د بیا پیل په تړاو خبرې وشوې

د عامـې روغتیا وزیـر مولوي نور جلال جلالي پـه خپل کاري دفتر کې د ملي پراختیا شرکت له رییس عبدالرحمـن عطاش سـره کتلي. پـه دې لیدنه کې د عامـې روغتیا وزارت د نیمه پاتـې رغنیزو پروژو د چـارو د بیا پیل پـر څرنګوالي، د رغنیـزو چـارو پـر کیفیـت او سـرعت، د ختیـځ کمپلکـس او همدارنګـه د کونـړ ولایتـي روغتـون د رغنیـزو چـارو اړوند هـر اړخیـزې خبرې شـوې دي. مولوي نور جـلال جلالي ویلي،

چې ولسـونه روغتیایي خدماتو ته اړتیا لري، نو په همدې اساس باید ژر تر ژره د عامې ... ۲مخ

د مسلمهٔ أمت تر منځ وحدت او یووالی د دوی قوت او عظمت تضمینوي
۲ مخ

بیا هم د خپل وطن په لور!
۲ مخ

وچکالي؛ د ژوند خاموشه قاتل!
۲ مخ

افغـان اعلانات
صفحه ۳

انتقال ۱۰۰۰ جریب زمین برای توسعه و ایجاد پارک‌های صنعتی در پروان

مسـئولان محلـی ولایـت پروان می‌گویند، یک‌هزار جریب زمین از ریاست زراعت، آبیاری و مالداری بـه ریاسـت صنعـت و تجارت ایـن ولایت انتقال شـده اسـت.

حکمـت شـمیم، سـخنگوی والـی پروان بـا نشـر خبرنامه‌ای از انتقـال ایـن مقـدار زمیـن به ریاسـت صنعـت و تجـارت ولایت پـروان، خبر داده اسـت.

به گفته آقای شـمیم، ۵۰۰ جریب زمین انتقال‌شده برای... ص۲

سرمقاله

اوبه؛ د ژوندي پاتې کېدو اساسي عنصر او یو ستر امانت!

پـه ژونـد کـې داسـې یـو څه شـته، چـې هره سـاه تـرې اخیسـتل کېـږي او پرتـه لـه هغـې ژونـد ناشـونی دی، خـو مـوږ یـې ارزښـت تـه نـه یـو متوجـه شـوي. پوهېـږئ هغـه څه شـی دی؟ ځواب: اوبه!

دا پاکه، بـې رنګه، خو له رنګینیـو ډکه ماده، د ژوند هغه نـه بدلېدونکې اړتیـا ده، چې له نشـتوالي سـره یـې نه یوازې انسـان؛ بلکـې طبیعت، حیوانـات، کرنه او ټـول ژوي له زوال سـره مخ کېږي. اوبـه یوازې مایع نـه ده؛ بلکې د تنفـس، تولیـد، تغذیې، اقتصـاد او تمدن بنسـټ دی.

خـو له بده‌مرغـه؛ نن ورځ په افغانسـتان کې دا حیاتي سـرچینه له جدي ګواښ سـره مخ ده. طبیعي چینې، کاریزونه، څاګانې او نورې زېرمې ورځ تر بلې وچېږي او د اقلیم بدلـون، بې احتیاطه مصرف، وچکالي، د اوبو د مدیریت نشتون او بې مسئولیته چلند دا حالت لا پسې خطرناک کړی دی. د هېواد نږدې ټول ولایتونه اوس د اوبو د جدي کمښت له ستونزې سره مخ دي. کروندګر د خپلو فصلونو د سوځېدو له وېرې شپه او ورځ بیداره وي. ښاري خلک د څښاک د پاکو اوبو لپاره ساعتونه انتظار باسي او په کلیو کې خلک بیا پر اوبو پسـې اوږده مزلونه کوي، تر څو یوه بوشکه پاکې اوبه پیدا کړي. ګـورئ، کـه څـه هم بریښـنا پـه ځینو سـیمو کـې د دولت لـه لوري وړیـا برابـره شـوې، خـو اوبـه وړیـا برابرېدای نشـي. که څـوک یې وړیـا ګڼي، بیـا یې پایلـه همـدا وي، چې اوبه بـه له موږ مـخ واړوي او د اوبـو لـه جـدي کمښـت سـره لکه چـې مخ یـو، مخ کېـږو به!

مـوږ بایـد دا سـتر حقیقـت درک کـړو، چـې د اوبـو بحـران یوازې تخنیکي یا موسـمي مسـئله نه ده، بلکې یوه سـتره ملـي غمیزه ده، چې کـه نـن یې حل ونه شـو، سـبا بـه د ژوندانه بنسـټونه را ویجـاړ کړي. د اوبو مصرف باید تر جدي څار لاندې ونیول شي. د بې ځایه مصرف مخه یې باید ونیول شي. خلک باید دې ته وهڅول شي، چې د اوبو ذخیره کولو او سپما عملي لارې خپلې کړي. د عامه پوهاوي کچه باید لوړه شي، ښوونځي، جوماتونه، رسنۍ او ټولنیزې شبکې دې، د دې مهم پیغام رسونه وکړي. دولت، مدنـي ټولنې او هر فرد باید د اوبو د مدیریـت او زېرمې جوړونې لپاره ګډ کار وکړي. اوبـه ژونـد دی او ژونـد زمـوږ لـه ټولـو سـتر مسـئولیت دی. راځئ چـې د اوبو د بې ځایه مصرف، بې تفاوتۍ او ناپوهۍ دا دروازه وتـړو او د اوبو ژغورنې لپاره نن اقدام وکړو، ... ۲مخ

دسترسی حدود ۳۰۰ خانواده به آب صحی در ننگرهار

در ادامـه تطبیـق پروژه‌هـای عام‌المنفعـه بـرای دسترسـی خانواده‌ها به آب آشامیدنی صحی در کشـور، برای ۲۹۰ خانواده در ولایـت ننگرهار آب آشـامیدنی صحـی فراهـم شـده اسـت.

بربنیـاد خبرنامه، دسترسـی این تعداد خانواده‌ها به آب آشامیدنی صحی بـا بهره‌گیری یک شـبکه آبرسـانی در قریـه «قیوم‌خیـل» ولسـوالی خوګیانـی ولایـت ننگرهـار، فراهم شـده اسـت.

به گفته وزارت احیاء و انکشـاف دهات این شـبکه آبرسانی صحی به هزینه ۸۱ هـزار دالر امریکایی معـادل ۵ میلیـون و ۶۰۰ هزار افغانـی، سـاخته شـده اسـت.

در جریـان تطبیق پـروژه متذکره بـرای ده‌هـا تـن از باشـندگان ولسوالی خوګیانی ولایت ننگرهار زمینه کار نیز فراهم شـده است.

این در حالی است که روز گذشته نیز وزارت احیاء و انکشاف دهات از آغاز کار یک شـبکه آبرسـانی صحی به هزینه ۱۱ میلیون افغانی در ولایت کندهار خبر داده بود.

تېر کال ستوماتولوژي روغتون کې سلګونه لوی عملیاتونه ترسره شوي

شریعت: د سـتوماتولوژي ملي درملنې او تخصصـي روغتون په هېواد کـې یواځینی روغتون دی، چې خلکو ته د غاښونو جوړولو په برخه کـې خدمات وړاندې کوي.

د یاد روغتون د مسئولینو پر وینا، چې په تېـر ۱۴۰۳ هـ ش کال یو زر ۹ سـوه ۱۹ لـوی او ۶۷ زره ۴ سـوه ۳۰ کوچنـي عملیاتونه په وړیا ډول تر سره شـوي دي.

د سـتوماتولوژي ملـي درملنـې او تخصصـي روغتون سـرطبیب ډاکټـر امیرخان امین د شـریعت ورځپاڼې خبریال تـه ویلي: چې پـه تېـر ۱۴۰۳ هـ ش کال کې سـتوماتولوژي روغتون(او ، پي، ډي) څانګـې تـه د درملنـې په موخه یو لک ۲۵ زره ۹ سـوه ۸۸ تنه او بستر ناروغان شمېر ۱۱ سوه ۹۲ تنـو مراجعه کـړې او درملنه یې په ښه شـان تر سره شوې ده .

ښـاغلي امیـن ویلـي، چـې نومـوړي روغتـون تـه د هېواد د مختلفـو ولایتونـو او لـرې پرتو سـیمو څخه ګڼ شـمېر ناروغان د درملنـې لپاره مراجعـه کوي. هغه وایي، چې د سـتوماتولوژي ملـي معالجـوي او تخصصـي روغتون دا مهال ۳۵ بستره ناروغانو ظرفیت لري او کوښښ مو دا دی، چې نوموړی بسـتر زیـات کړو.

سـرطبیب امیـن ویلـي، چې د سـتوماتولوژي ملي معالجوي او تخصصـي روغتون تـه هر ورځ د ۵۰۰ په شـاوخوا کې ناروغان راځـي او درملنـه یـې تر سـره کېږي. هغه زیاته کـړه، چې په تېر کال کې ۸۴۱ تنه د غاښـونو ژامې (پروتیز) او ۱۳۰ غیر منظم غاښونه (اورتـو دونسـي) جـوړ شـوي دي. ۳مخ

د مسلمة أمت تر منځ وحدت او يووالی د دوی قوت او عظمت تضمينوي

مفتي محب الله حقاني

تېر تاريخ تـه کتنه ځکـه اړينه ده، چې تاريـخ لومړنـی هغه پېښې ثبت کړي، چې هغـه د ورستنيو نسلونو لپاره د پند، نصيحت او عبرت درسونه جوړېدلای شي، دا ځکه چې نړۍ يوه ده، خو پېښې د خپلو عواملو او اسبابو تر شا په مکرر ډول په کې تکرارېږي؛ راتلونکي نسلونه کولای شي، چې راتلونکې پېښې د تاريخ له پېښو څخه د درس اخيستلو په مرسته ښې مديريت کړي او د پېښو په مديريت کې له هغو جانبي عوارضو څخه ځانونه وژغوري، له کومو سره چې مخکيني خلک مخ شوي وو.

اوس نو که د تاريخ کتاب ته ځغلنده نظر وکړو او هغه باب په کې پرانېزو چې د مسلمه أمت د قوت، عظمت او لوړ شان و شوکت کيسې په کې ثبت دي او هغه اسباب او عوامل په کې را وسپړو، چې يو وخت مسلمة أمت د هغو اسبابو پر مټ د نړۍ پر سر د اقتدار او راج چلولو خاوند و؛ نو به د تاريخ له منځه دا موږ ته له ورايه وبرېښي، چې هغه وخت چې مسلمه أمت د نړيوال قوت، عظمت او لوړ شان وشوکت څښتن و، د دې له عواملو او اسبابو څخه يو لوی لامل او عامل، په هغه وخت کې د مسلمة أمت خپل منځي اتفاق، وحدت او يووالی و، چې مسلمانانو ته يې د ځواک، قوت او عظمت په ښښلو سره پر نړۍ د اقتدار او راج چلونې صلاحيت او توان وربښلی و. هغه داسې اتفاق او وحدت و، چې د نړۍ ټولو مسلمانانو به په بدرګه سره پرته له نژاد پرستۍ،وطن پرستۍ، زبان پرستۍ، قوم پرستۍ او په عموم کې له هر رنګه تعصبه د اسلام په يوه رسۍ منګولې ښخې کړې وې، ټول مسلمه أمت به د يوه جسد غوندې يو موټی، يو قوت او يو آواز و، د وحدت او اتفاق نظريې به يې په نفوسو کې ژور رسوخ پيداکړی و او د فکر و عمل له ډګره به يې د وحدت او يووالي داسې شعارونه راټوکېدل، چې : ټول مؤمنان سره ورونه دي. دا او دې ته ورته د يووالي او اتفاق ديني شعارونه به يې بدرګه کول، چې په دې سره به د ټولې اسلامي نړۍ هر فرد او ټولنې د خپل منځي وحدت، اتفاق او يووالي تلقين اخيستلو او ټول به د وخت د کفارو په مقابل کې يو موټی، يو قوت او يو آواز کېدلو.

همدا د هغه وخت د مسلمانانو يووالی او وحدت و ، چې دوی يې پر مټ د لوی قوت او عظمت څخه برخمن کړي و او د هغه وخت د زبرځواکۍ او سترې ځواکمنۍ و ستېج ته يې پورته کړي و.

خو تاريخ داهم ثبت کړې ده: کله چې د همدې مسلمه أمت تر منځ د اختلافاتو درزونه پيدا شول، د خپل منځي جنجالونو او شخړو ښکار شو، وحدت او يووالی يې مات شو، د سلطنت، قدرت او منصب پر سر د اسلامي نړۍ په داخل کې د هېوادونو تر منځ سيمه ييز قلمروونه، پولې او سرحدات رامنځه ته شول، مسلمه أمت د خپلو ګډو مشترکاتو سربېره د دنيوي مفاداتو او خواهشاتو پر سر پر ډلو، فرقو او ټوټو ووېشل شول، د مسلمانانو په منځ کې سيمه ييز، ژبه نيز، او هر اړخيز نامشروع پر تعصب بنا اختلافات اوج ته ورسېدو؛ نو د همدې خپل منځي اختلافاتو له امله بېرته د هغه قوي او ځواکمن مسلمان ملت قوت او عظمت له خاورو سره خاورې شو، همدا ملت چې مخکې حاکم و، محکوم شو، نړيوال ځواک او طاقت يې له سُپر څخه صِفر ته راټيټ شو، د يوې لويې غالبې واکمنۍ او حکمرانۍ څخه د مغلوبيت او مظلوميت پر ګډۍ راوپرځول شو، په نړۍ کې بې واکه او بې اختياره شو آن تر دې چې لا تر اوسه د خپل منځي اختلافاتو له امله د همدې ضعف او کمزورۍ په نقطه کې ښخ دي.

فلهذا د تاريخ دا ثبت موږ ته دا درس راکوي: چې د مسلمه أمت د تېر برم، قوت او عظمت د بيا اعادې لپاره اړينه ده، چې د اسلامي نړۍ ټول مسلمانان يو موټی، يو قوت او يو آواز شي، خپل منځ کې د وحدت، اتفاق، يووالي او ورورګلوۍ لاسونه سره ورکړي، نور له خپل منځي اختلافاتو څخه لاس واخلي، له نژاد پرستۍ، وطن پرستۍ، زبان پرستۍ، قوم پرستۍ او هر راز تعصباتو څخه ځانونه وژغوري، ټول مسلمانان د يوه جسد غوندې يو د بل په درد دردمند او په غم غمجن شي، د ظالم پر وړاندې يو د بل ملاتړ شي.

که داسې وشي؛ نو لرې به نه وي چې مسلمان ملت به مو بيا د تېر په شان له قوت او عظمته برخمن شي؛ دا ځکه چې د مسلمه أمت ترمنځ وحدت او يووالی د هغوی د قوت او عظمت تضمين کوي.

بيا هم د خپل وطن په لور!

مولوي فاروق غلجی

دا دی موږ او نړيوال اورو – وينو، چې له تېرو څو اوونيو راهيسې د ايرانيانو له خوا هره ورځ په لسګونو زره افغان کډوال خپل هېواد ته په خورا بد وضعيت راشړل کېږي، البته دا يوازې ايران نه دی؛ بلکې پاکستان، ترکيه، اروپايي هېوادونو او ګڼو نورو ځايونو کې هم له افغانانو سره ورته چلند شوی، تر دې چې خپله زموږ ګيلو او شکايتونو ترڅنګ ټولو نړيوالو بشري او حقوقي ادارو، ټولنو او شخصيتونو هم ښکاره نيوکې پرې کړې او د هغوی ياد چلند يې په سختو ټکو غندلی دی.

دا چې اوسنيو حالاتو کې افغانان د راستنېدونکو هېوادوالو د دغه شان سترو جوپو د خدمت پالنې څومره وس او چمتووالی لري، هر چاته په ډاګه معلومېږي. دغسې درانه پېټي نه شي ورلی او دا هم له چا پټه نه ده، چې اغيار او رقيبان خو پرېږده، آن خپل د کلمې ورونه هم زموږ سره د بې ځايه ضد او ګونډۍ په لاره درومي او موږ يې له مرستې او خواخوږۍ پوره ناهيلي کړي يو.

په هر صورت، راځئ له دې خبرو تېر شو، چې کوربه هېوادونه ولې زموږ له پردېسو وطنوالو سره ناوړه ګوزاره کوي او يا ولې نور خپل او پردي زموږ سره په دغو ستونزو کې مرسته نه کوي. راځئ لږ خو خپله ګناه او نيمګړتيا هم وپېژنو. په تېرو پښېمانه او توبه ګار شو او د راتلونکې لپاره ځانونه سم کړو.

حقيقت دا دی، چې د نړۍ له ګوټ ګوټ نه دافغان کډوالو راشړنه، زموږ د هر فرد لپاره خورا لوی عبرت دی. موږ ته په کار ده له دغسې پېښو دا زده کړو، چې واقعاً پردی کټ تر نيمو شپو وي، پردي نه راخپلېږي، د خپل هېواد ودانې او پرمختګ د هر افغان لپاره سوکالي او سرلوړي ده او بايد چې خپل هېواد ته په ډېره درنه سترګه وکتل شي. د خپلو تېرو نيمګړتياوو په لړ کې، ايا دا زموږ خپله ګناه نه وه، چې يو شمېر پرديپالي او له خپل تاريخه ناخبره هلکان مو د مارکس او لينن په شعارونو وغولېدل، د کمونېزم په څېر نامعقوله لار يې خپله او پر خپلو بې وزلو هېوادوالو يې را باندې کړل؟ بيا تر څوارلس کاله بې سارې بدمرغۍ او خوارۍ وروسته مو بيا هم بله ګناه دا وه، چې آن يو شمېر لوستي او د پوهاندۍ مدعيان مو د سيمه ييزو ، قومي او ژبنيو تعصوبونو او اختلافاتو په نشه کې راغلل او د ځينو ګاونډيانو او نورو مغرضو هېوادونو په لمسون يې آن د خپل کور بنسټونه هم ونړول او پر نورو يې وپلورل، خو په ډېره خواشينۍ چې زياترو بيا هم څه درس وا نه خيست او درېيم ځل يې د لوېديځوالو په اشاره او مرسته ولسونو د خپلو جوماتو او مدارسو امامانو او طالبانو پر خلاف ملا وتړله او شل کاله يې د صليبي دښمن په ډاګيز ملاتړ دومره جفاوې ورسره وکړې، چې زموږ تاريخ به يې کله هم له ياده ونه باسي. تردې چې يادې ډلې او اشخاص قادر خدای جل جلاله په خپل قدرت او د مؤمنو مجاهدينو د اخلاص په برکت له تاريخي رسوايۍ سره مخ او داسې مات کړل، چې آن بادارانو يې هم پوره عبرت واخيست.اوس چې دا ګردې سرې او تودې تېرې او د هېواد واکې يو داسې جماعت ته په لاس ورغلې، چې د خپل ملت په منځ کې تر دوی زيات مخلص، خدمتګار او خواخوږي خلک نه شو موندلی او د هر افغان سر، دين، ناموس، مال او عزت کاملاً خوندي، د اسلام کلمه اوچته او د خپل ولس د ملي ارمانو او مادي ګټو بشپړ درناوی کېږي، نو راځئ دا زده او خپلو اولادونو ته يې هم ورياد کړو، چې بيا هېڅکله د پرديو په نارو–سورو او لمسونو ونه غولېږي.

د خپل هېواد پرمختګ او سوکالۍ لپاره کار وکړي. موږ بايد خپل دا وصيت پر لويو ډېرو وليکو او خپل راتلونکي نسل ته سپارښتنه وکړو، چې ستاسې عزت يوازې او يوازې خپل هېواد کې خوندي کېدای شي، نو راځئ د خپل هېواد پر لور راستانه شئ او په ښېره راځئ.

وچکالي؛ د ژوند خاموشه قاتل!

ابو عمر

اقليمي بدلونونو د ژوندانه بنسټونه له ګواښ سره مخ کړي، خو په افغانستان کې دا بحران بيا له تصور ورهاخوا ژور شوی دی. د اوبو جدي کمښت نه يوازې کرنه او مالداري له ستونزو سره مخ کړې؛ بلکې د انسانانو د بقاء او ژوند لپاره هم ستر تهديد ګرځېدلی. دلته د افغانستان د هغو ولايتونو، چې د وچکالۍ له امله سخت ځپل شوي دي، وضعيت تشريح کوو، د دې ليکنې لوستل او عمل پرې کول ډېر اړين دي.

په هلمند، نيمروز، فراه، کندهار، زابل او ارزګان کې تر ډېره د اوبو برمې وچې شوي، تر ځمکې لاندې اوبه په بې سارې ډول ژورې تللې. خلک بايد له ۲۵۰ تر ۳۰۰ مترو ژورې څاګانې ووهي، څو لږې اوبه تر لاسه کړي. په ځانګړي ډول، د هلمند په نوزاد، موسی کلا، کجکي او واشېر ولسواليو کې اوبه دومره کمې شوي، چې يا خو سيمې له خلکو خالي شوي او يا هم د وچکالۍ له امله له ډېر سخت ژوند سره لاس و ګرېوان دي. کارېزونه له منځه تللي او د څښاک اوبه هم نه پيدا کېږي. خلک له کلونو راهيسې د بندونو او کانالونو د جوړېدو خوبونهويني، خو دا خوبونه لا هم د تمې په پړاو کې بند پاتې دي. د بېلګې په توګه، په نوزاد کې د فرهاد بند، د زميندآور کانال او د موسی کلا بند تر يوه بريده ډيزاين شوي، خو عملي کار يې لا هم نه دی پيل شوی. دا په داسې حال کې ده، چې دا پروژه کولای شي د زرګونو انسانانو ژوند وژغوري.

په ختيځ زون (ننګرهار، لغمان، کونړ) کې خلک هم د وچکالۍ او بدو ناورينونو (سيلابونو) تر منځ راګير دي. نړيوالو ادارو خبرداری ورکړی، چې په ۲۰۲۴ او ۲۰۲۵ کلونو کې زرګونه ماشومان او کورنۍ له دې بحرانه اغېزمن شوي. په شمال کې فارياب، جوزجان او نور ولايتونه هم له همداسې برخليک سره مخ دي. ځينې راپورونه ښيي، چې د افغانستان له نيمايي ډېر ولايتونه (۲۰ څخه زيات) د وچکالۍ له سخت حالت سره مخ دي، چې دا حالت د بيړنۍ توجه وړ دی.

د پلازمېنې کابل وضعيت هم اندېښمنوونکی دی. د اوبو سطحه په تېرو لسو کلونو کې ۲۵-۳۰ متره راټيټه شوې، نيمايي څاګانې وچې شوې او خلک بيا بيا ژورې برمې وهي، تر څو لږې اوبه تر لاسه کړي. دا حالت يوازې د اوس لپاره نه دی، د ملګرو ملتونو د معلوماتو له مخې، که وضعيت همداسې دوام وکړي، نو تر ۲۰۳۰ کال پورې به د کابل تر ځمکې لاندې اوبه بشپړې وچې شي. د پنجشېر له سينده د اوبو راوستو ډيزاينونه بشپړ شوي، خو عملي ګامونه تر اوسه نه دي پورته شوي.

په افغانستان کې د سولر برمو پراخ استعمال د اوبو کچه نوره هم راټيټه کړې ده. خلک له سهار تر ماښامه پرته له وقفې اوبه راکاږي، خو دا ستره تېروتنه ده. د نړۍ هېڅ پرمختللی هيواد د کرنې لپاره تر ځمکې لاندې اوبو څخه کار نه اخلي، بلکې دا اوبه يوازې د څښاک لپاره ساتل کېږي. هغوی بندونه جوړوي، باران مهاروي او خپل سيندونه مديريت کوي، خو موږ بيا له واورو او بارانونو سره سليقې اخلو، اوبه نورو هيوادونو ته لېږدوو، خو خپله له تندې مرو!

راځئ چې د دې ناورين حل لاره ولټوو! هغه داسې چې موږ بايد د اوبو د کارونې قانون جوړ او په جدي توګه عملي کړو، د پايداره مديريت لپاره يې ملي ستراتيژۍ ولرو او د بندونو، کانالونو جوړېدو لپاره په ګډه يو ملي حرکت پيل کړو. دا يوازې د حکومت کار نه دی، ولسونه هم بايد لاسونه سره ورکړي، د خپل توان مطابق کوچني بندونه جوړ کړي. که موږ هر يو خپله برخه مسئوليت ادا کړو، نو راتلونکي نسلونه به له تندې وژغورل شي.

عقل د الله جل جلاله يو ستر نعمت دی او مسئوليت د هر انسان پر غاړه دی. که نن لاس په کار شو، نو الله جل جلاله به هم پر موږ ورحمېږي، خو که يوازې پر دعا اتکا وکړو او عملي ګام وانخلو، نو دا بحران به لا ژور شي. راځئ چې لاسونه سره ورکړو او د وطن د اوبو هر څاڅکی وساتو!

واکنش ا.ا به تصويب پيش‌نويس...

مانع تعامل سازنده و همکاری موثر در راستای منافع مردم افغانستان و جامعه جهانی خواهد شد. در بيانيه از اعضای سازمان ملل متحد خواسته شده تا وضعيت افغانستان را واقع‌بينانه، مطابق با منافع ملی، اصول بين‌المللی و ارزش‌های اسلامی بررسی کنند. وزارت امور خارجه با بيان اين مطلب تاکيد کرده که اعضای سازمان ملل از تصويب اسنادی که مسبب تشديد چالش‌ها و فاصله گرفتن از واقعيت‌های موجود در افغانستان شود، خود داری کنند.

بربنياد بيانيه، ا.ا بار ديگر تعهد جدی خود را به تامين امنيت، ثبات، رفاه و رهايی از اشغال افغانستان ابراز و تاکيد کرده که در روشنايی اصول اسلامی و منافع ملی برای تعامل مثبت با جهان تلاش می‌کند.

مجاهد: د نړيوالې محکمې په نوم...

د اسلامي امارت وياند د نړيوالې محکمې په نوم د يوې اداري دا ډول څرګندونې د اسلام له مبارک دين او د اسلامي شريعت له تطبيقوونکو سره ښکاره دښمني بللې او دا ډول اعلاميې يې په کلکه غندلې دي.

د عامې روغتيا وزارت د نيمه‌پاتې ...

روغتيا وزارت اړوند د نيمه پاتې رغنيزو پروژو چارې په ګډه بشپړې کړو، تر څو ولسونو ته خدمات چمتو او له معياري روغتيايي خدماتو برخمن شي. د ملي پراختيا شرکت رييس ژمنه کړې، چې د عامې روغتيا وزارت اړوند پروژو ته به ځانګړې پاملرنه کوي، تر څو ژر تر ژره يې چارې بشپړې او روغتيايي خدماتو ته چمتو شي.

باميانو کې د اوبو رسونې ۷ شبکې...

د اروپايي ټولنې د بشردوستانه مرستو د سازمان په مالي ملاتړ د ياد ولايت د کليو بيارغونې او پراختيا رياست له لوري جوړې شوې دي.

د نيمروز والي د راستنېدونکو...

کډوالو حالت له نږدې ارزول شوی دی.

د نيمروز والي د ولايتي اداري مسئولينو ته سپارښتنه کړې، چې د راستنېدونکو کډوالو د ښه پالنې او خدمت په برخه کې لا زيات تمرکز وکړي. د ولايت مقام د معلوماتو له مخې، په خدماتي کمپونو کې ټولو راستنېدونکو ته درې وخته خواړه، د څښاک پاکې اوبه، جوس، روغتيايي خدمتونه او د ټرانسپورت اسانتياوې برابرې شوې دي.

وردګو کې د انتيموني او سربو...

دغه کارخونه پر ۲۵ جريبه ځمکه جوړه شوې، چې له لارې يې له ۴۰۰ زياتو تنو ته د کار زمينه برابره شوې ده. مسئولين وايي، د دغې پروژې چارې به تر راتلونکو پنځو کلونو پورې سل سلنه بشپړې شي.

انتقال ۱۰۰۰ جريب زمين برای...

توسعه شهرک صنعتی باريک‌آب، واقع در ولسوالی بگرام و ۵۰۰ جريب زمين ديگر برای ايجاد پارک صنعتی جديد در ولسوالی شينواری اين ولايت در نظر گرفته شده است. سخنگوی والی پروان افزوده، انتقال اين مقدار زمين بربنياد هدايت عاليقدر اميرالمؤمنين «حفظه‌الله» صورت گرفته است. او هدف از اين اقدام را «تقويت زيربناهای صنعتی، رُشد وليدات داخلی و حمايت ازسرمايه‌گذاران» عنوان کرده است.

سيد ايمل نيکمل آغا، رييس صنعت و تجارت ولايت پروان، اين اقدام را گامی مؤثر در راستای فراهم‌سازی بستر مناسب برای سرمايه‌گذاری، ايجاد فرصت‌های کاری و توسعه صنعت در ولايت پروان دانسته است. گفتنی است که اخيراً به هدايت رهبر ا.ا. افغانستان، ۸۰ هزار جريب زمين به هدف ايجاد پارک‌های صنعتی و توزيع به سرمايه‌گذاران به وزارت صنعت و تجارت انتقال شده است.

اوبه؛ د ژوندي پاتې کېدو اساسي...

تر څو سبا مو اولادونه د تندې له ښامار سره مخ نه شي. اوبه، د راتلونکو نسلونو ستر امانت دی، چې بايد له خيانت څخه يې ځان وساتو. په ياد ولرئ!!! که اوبه وچېږي، ژوند ورسره ختمېږي!

استرداد بيش از يک‌هزار و ۵۷۰...

جلسه در مورد پرونده ۹ هزار جريب زمين ديگر نيز تصميم گرفته اما در مورد تصميم اتخاذشده جزئيات ارايه نشده است. اين در حالی است که اواخر هفته گذشته نيز نزديک به ۳۰۰ جريب زمين شهرک «حکيم سنايی» در ولايت غزنی، امارتی تثبيت شد.

د خواف ـ هرات د وسپنې پټلۍ...

تر دې مهاله د پروژې د زېربنايي برخې ۹۶ سلنه، د ريل نصب ۸۵ سلنه او د پُلګوټو جوړولو ټولې چارې بشپړې شوې دي. د نومورې پر وينا، د رباط پريان په سيمه کې يو عصري تمځای او د تګ راتګ ۶ ځايونه هم په پلان کې دي، چې رغنيزې چارې يې روانې دي. د ټولګټو چارو وزارت ويلي، چې د يادې پروژې په بشپړېدو سره به افغانستان د وسپنې پټلۍ له لارې له سيمې او نړۍ سره ونښلول شي او د سوداګريزو توکو لېږد به نور هم چټک او ارزانه شي.

افغان اعلانات

اعلان داوطلبی (۴)

جایداد امارتی واقع ناحیه اول، نهم و ۱۲ شهر کابل!

ریاست عمومی املاک دولتی وزارت مالیه (۴) جایداد امارتی ذیل را به شکل آفر سربسته طور جداگانه به اعلان داوطلبی می سپارد، به مدت(۳) سال.

۱- صالون سینما پامیر دارای دو منزل، به مساحت مجموعی(۹۱۷/۵۲) متر مربع واقع تعمیر ۱۴ منزله سینما پامیر مربوط ناحیه اول شهرکابل جهت فعالیت فرهنگی به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ(۱۳۳۰۵۹) افغانی.

کوردینات(جی.پی.اس نمبر)۶۹/۱۷۲۱۹-۳۴/۵۱۳۴۲

۲- موازی(۵۸۰۳۹) متر مربع زمین بنام شهرک دوستی واقع ارزان قیمت مربوط ناحیه (۱۲) شهرکابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ(۶۶۷۴۵) افغانی.

کوردینات(جی.پی.اس نمبر)۶۹/۳۱۵۹۴۶
۳۴/۵۰۷۱۴۵

۳- موازی(۱۲۰۵۴) متر مربع زمین واقع چهار برجک یکه توت مربوط ناحیه ۹ شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ(۱۲۰۵۴) افغانی.

کوردینات(جی.پی.اس نمبر)۶۹/۲۰۸۲۱۷
-۳۴/۵۳۳۱۷۱

۴- موازی(۲۲۷۰) متر مربع زمین پشمینه بافی واقع پکتیا کوت عقب تانک تیل هوتکیان مربوط ناحیه نهم شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ(۵۱۰۸) افغانی.

کوردینات(جی.پی.اس نمبر)۶۹/۲۸۲۸-۳۴/۵۴۴۳

اشخاص حقیقی و حکمی که خواهان به کرایه گرفتن جایداد فوق را داشته باشند میتوانند درخواست های شان را از تاریخ ۱۸/سرطان/۱۴۰۴ الی ۷/ اسد/۱۴۰۴) به مدت (۲۱) روز به ریاست عمومی املاک دولتی تسلیم نموده شرطنامه را اخذ نمایند.

آدرس: سینما پامیر تعمیر ۱۴ منزله، منزل ۵، مدیریت عمومی ارزیابی قرار دادهای مرکز

شماره تماس-۰۲۰۲۹۲۴۶۲۴-۰۲۰۲۹۲۴۶۰۷)

تاریخ مجلس داوطلبی: ۸/اسد/۱۴۰۴ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهور برگزار میگردد.

***

(اعلان داوطلبی (۴) باب دوکاکین ظاهر شاهی مارکیت و (۳۴) باب دوکاکین نظیف مارکیت مربوط ناحیه اول و پنجم شهر کابل!

ریاست عمومی املاک دولتی وزارت مالیه دوکاکین ذیل واقع نظیف مارکیت کوته سنگی مربوط ناحیه پنجم و (۴) باب دوکاکین ظاهر شاهی مارکیت مربوط ناحیه اول شهر کابل را به شکل آفر سربسته طور جداگانه به اعلان داوطلبی می سپارد، مدت(۲) سال.

۱.دوکان نمبر D7 بمساحت (۱۶/۹۶) متر مربع واقع منزل دوم نظیف مارکیت کوته سنگی به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ(۳۰۰۰) افغانی.

۲.دوکان نمبر D8 به مساحت(۱۶/۹۶) متر مربع واقع منزل دوم نظیف مارکیت کوته سنگی به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ(۳۰۰۰) افغانی.

3.به تعداد(32) باب دوکان نمبر(A56 الی A88) به مساحت(۵۰۴) متر مربع واقع نظیف مارکیت کوته سنگی مربوط ناحیه پنجم شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ(۱۲۸۰۰۰) افغانی. کوردینات(جی.پی.اس نمبر)
۳۴/۵۱۵۲۷۲-۶۹/۱۱۷۴۶

٤. یکباب دوکان نمبر (۱۷۵) به مساحت (۲/۸) متر مربع واقع مندوی کابل ظاهر شاهی مارکیت به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (۲۲۳۲۱) افغانی.

۵. یک باب دوکان نمبر (۱۵۰) به مساحت (۶/۳۸) متر مربع واقع مندوی کابل ظاهر شاهی مارکیت به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ(۲۲۶۵۰) افغانی.

۶. یک باب دوکان نمبر(۱۶٤) به مساحت (۶) متر مربع واقع مندوی کابل ظاهر شاهی مارکیت به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ(۲۲۶۵۰) افغانی.

۷. یک باب دوکان نمبر (۱۶۵) به مساحت(۶) متر مربع واقع مندوی کابل ظاهر شاهی مارکیت به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (۲۲۶۵۰) افغانی، کوردینات(جی.پی.اس نمبر)
۳۴/۵۱۷۱ - ۶۹/۱۷۷۵۶

اشخاص حقیقی و حکمی که خواهان به کرایه گرفتن جایدادهای فوق را داشته باشند میتوانند در خواست های شان را از تاریخ (۱۸/سرطان/۱۴۰۴ الی ۲۴/سرطان/ ۱۴۰۴) به مدت (۷) روز به ریاست عمومی املاک دولتی تسلیم نموده شرطنامه را اخذ نمایند.

آدرس: سینما پامیر تعمیر ۱۴ منزله، منزل ۵، مدیریت عمومی ارزیابی قرار دادهای مرکز، شماره تماس-۰۲۰۲۹۲۴۶۲۴-۰۲۰۲۹۲۴۶۰۷) ، تاریخ مجلس داوطلبی: ۲۵/سرطان/۱۴۰۴ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهور برگزار میگردد.

***

اطلاعیه به کرایه دهی

ریاست اجرائیوی شرکت امارتی نساجی افغان، شفاخانه کادری ملکیت خویش واقع شهر پلخمری ولایت بغلان را که شامل (۲) باب تعمیر دو منزله، (۷۲) باب اتاق و ساحه سبز وسیع می باشد، ازطریق داوطلبی باز به شکل آفر سر بسته بکرایه میدهد.

بناء از تمام داوطلبان واجد شرایط که خواهان کرایه گیری شفاخانه متذکره باشند دعوت می گردد، تا در پروسه داوطلبی متذکره اشتراک نموده، یک نقل شرطنامه مربوطه را طوری سافت و هارد در بدل مبلغ (۳۰۰۰) سه هزار افغانی پول بدون بازگشت از تاریخ نشر اعلان الی مدت ۲۵ یوم از مدیریت عمومی املاک نساجی افغان واقع چوک پوهنتون تعلیم و تربیه ، سرک عمومی خوشحال خان ساحه الف کوچه حسن عسکری خانه نمبر ۲۹ و ریاست دستگاه نساجی افغان پلخمری بدست آورند.

تضمین آفر حاوی مبلغ (۵۰۰۰۰۰) پنجصد هزار افغانی بوده ، داوطلبان ملکف اند، قبل از داوطلبی مبلغ مذکور نقدا به معتمد آمریت مالی شرکت تسلیم نموده، رسید آن ضم آفر خویش در روز داوطلبی ارائیه نمایند.

جلسه داوطلبی متذکره به شکل مزایده طور آفر سر بسته به روز بیست و ششم ساعت ۱۱ یازده بجه قبل از ظهر در مقر این ریاست واقع چوک پوهنتون تعلیم و تربیه تدویر میگردد.۲۱۵

***

اطلاعیه فروش موتر

اسامی محترم شرکت نوین احمدی لمتید یک عراده موتر پلیت ۹۴۷۵۸-۲ ش کابل نوع تیوتا کرولا خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای زراب گل فرزند سیف الرحمن بفروش رسانیده است.

بناء اشخاص ادارات و موسساتی که با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند.۲۰۴

***

موضوع: اعلان دعوت به داوطلبی

کابل برشنا شرکت از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در پروسه داوطلبی(تهیه و تدارک رنگ های پرنتر ۴۳x ضرورت مدیریت بلنگ کابل برشنا) دارای کود نمبر(کابل برشنا -۱٤۰٤-باز ملی داخلی-اعلان مجدد-اجناس-۰۲) اشتراک نموده و نقل شرطنامه را به شکل سافت در حافظه یا فلش دسک از مدیریت تدارکات کابل برشنا بدست آورده، آفر های خویش را مطابق شرایط مندرج شرطنامه و طبق قانون و طرزالعمل تدارکات طور سر بسته از تاریخ نشراعلان الی ۱٤۰٤/۰۵/۰۸ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر به ریاست کابل برشنا واقع چمن حضوری شهر کابل ارایه نمایند آفرهای ناوقت رسیده و انترنیتی قابل پذیرش نمیباشد.

۱. تضمین آفر : مبلغ ۱۰۶,۰۰۰ یکصدو شش هزار افغانی

۲. توانایی مالی: ۸۳۷,۰۰۰ هشت صدو سی و هفت هزار افغانی

۳. آفر گشایی: جلسه آفر گشایی روز چهارشنبه ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر مورخ ۱٤۰٤/۰۵/۰۸ برگزار میگردد.

٤. آدرس و محل آفر گشایی : منزل اول صالون قرارداد های ریاست کابل برشنا.

۵. آدرس اداره : کابل برشنا چمن حضوری ناحیه هشتم کابل افغانستان

برای معلومات بیشتر به شماره ذیل تماس گیرید.

شماره تماس: ۰۷۲۸٦٤۸۰۳۵

آدرس الکترونیکی : hekmat.ranjbar@kbd.dabs.af

***

موضوع: اعلان دعوت به داوطلبی

عنوان پروژه: (تهیه و خریداری ۱۵ قلم البسه باب مورد ضرورت تولپلازاي کابل-غزنی ریاست عواید از بابت سال ۱٤۰٤)

وزارت فواید عامه از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت مینماید تا در پروسه داوطلبی پروژه (تهیه و خریداری ۱۵ قلم البسه باب مورد ضرورت تولپلازاي کابل-غزنی ریاست عواید از بابت سال ۱٤۰٤)

دارای نمبرتشخیصیه MOPW/1404/G-24/NCB میباشد اشتراک نموده و آفرهای سربسته خویش را مطابق شرایط مندرج شرطنامه بعد از نشر اعلان ارائه نماید.

آدرس حصول شرطنامه را از آمریت تدارکات اجناس ریاست تدارکات وزارت فواید عامه، واقع چهاراهی صدارت وزارت داخله سابقه، جوار اداره ملی احصائیه و معلوماتی روی فلش میموری بدست آورده و تسلیمی آفرها بتاریخ (۱٤۰٤/۰٤/۲٤ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر که آخرین میعاد ضرب الاجل تسلیمی آفر ها می میباشد, صورت میگرد آفرهای دیر رسیده و انترنتی قابل پذیرش نمیباشد.

تضمین آفر: به شکل بانک گرنتی مبلغ ۲۱,۰۰۰ بیست یک هزار افغانی میباشد.

زمان آفرگشایی: روز سه شنبه تاریخ (۱٤۰٤/۰٤/۲٤ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر)

محل آفرگشایی: وزارت فواید عامه.

نوت: درصورتیکه تاریخ (۱٤۰٤/۰٤/۲٤ سال جاری بطور غیر مترقبه از طرف حکومت رخصتی اعلان گردد جلسه آفرگشایی پروژه متذکره روز بعدکاری در همان ساعت و مکان مندرج مکتوب هذا برگزار میگردد.

***

موضوع: نشر اعلان

سرمایه گذاری تانک تیل امارتی مرکز ولایت فراه

((شرکت امارتی نفت و گاز افغانستان در نظر دارد تانک تیل امارتی مرکز ولایت فراه ملکیت خویش را از سرمایه شخصی متقاضیان در بدل امتیاز قرار داد اعمار و بازسازی نماید. افراد، اشخاص و شرکت های خواهش سرمایه گذاری را داشته باشند اعتبار از نشر اعلان هذا الی (۲۱) روز کاری با ارائه درخواستی شرطنامه پروژه اعمار و بازسازی تانک مذکور را در مقابل قیمت مبلغ (۱۰۰۰) افغانی از مدیریت نفت و گاز ولایت فراه و یا از دفتر مرکزی شرکت امارتی نفت و گاز افغانستان واقع سرکوتل خیرخانه جوار ناحیه ۱۷ شاروالی کابل بدست آورده میتوانند. نوت داوطلبان غرض دریافت نقشه و بل احجام پروژه مذکور، با خود فلش داشته باشند))

***

موضوع: نشر اعلان داوطلبی

تانک تیل امارتی مرکز ولایت لوگر

((شرکت امارتی نفت و گاز افغانستان، تانک تیل مرکز ولایت لوگر ملکیت خویش را بطور قرار داد به کرایه میدهد، افراد، اشخاص و شرکت های که خواهش قرار داد را داشته باشند اعتبار از تاریخ نشر اعلان هذا الی (۲۱) روز تقویمی با ارائه درخواستی شرطنامه داوطلبی تانک مذکور را در بدل قیمت مبلغ (۱۰۰۰) افغانی از مدیریت نفت و گاز ولایت لوگر و یا از دفتر مرکزی شرکت امارتی نفت و گاز افغانستان واقع کوتل خیرخانه جوار ناحیه ۱۷ شاروالی کابل بدست آورده خودشان به روز معینه جهت اشتراک در جلسه آفرگشائی مراجعه نمایند. برطبق شرطنامه تضمین اخذ میگردد.))

اعلان مفقودی

یک جلد کتابچه صفایی مربوط ناحیه هشتم کابل به اسم محمد عیسی ولد نیک محمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط است.۲۰۰۸

اعلان مفقودی

یک جلد کتابچه صفایی مربوط ناحیه سیزدهم کابل به اسم مجتبی ولد عطا محمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط است.۲۱۰

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم عبدالواحد نظری فرزند عبدالاحد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۳۶۶

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم اسحق فرزند سید حسین مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۳۶۵

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم علم خان براتی فرزند محمد نادرخان مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۳۶۷

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم خلیل محمد محمدی فرزند گل آغا مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۳۶۸

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم ذکر الله فرزند باز محمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۳۶۹

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم عبدالجبار سلطانی فرزند سلیمانقل مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۳۷۰

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم فیروز نذیری فرزند محمد هاشم مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۳۷۱

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم عبدالقاسم واحدی فرزند عبدالهاشم مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۳۷۲

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم حبیب الله سلطانی فرزند محمد جمعه مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۳۷۳

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم گلاب الدین فرزند امام یار مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۳۷۴

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم رمضان غلامی فرزند برهان مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۳۷۵

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم عبید الرحمن رحمانی فرزند سید رحیم مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۷۴

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم عزیز احمد فرزند فقیر احمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۴۶۳

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم سجاد فقیری فرزند زمان مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۴۶۰

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم مژگان بنت زمان مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۴۶۱

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم زمان فقیری فرزند محمد انور مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۴۶۲

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم نجیبه محمدی بنت کلبی حسین مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۶۲۲

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم فرید الله فرزند ولی گل مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۴۵۹

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم عصمت الله خروتی فرزند دل آقا مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۴۵۸

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم گلالی بنت بادشاه زالدین مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۴۵۷

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم مبارز رحمانی فرزند قیام الدین مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۴۵۶

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم محمد بشیر فیضی فرزند عبدالحق مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۴۵۵

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم زهرا سلطانی بنت عبدالوهاب مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۴۴۷

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم علی حسین سلطانی فرزند عبدالوهاب مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۴۵۰

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم گل مکی فرزند امر الله مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۴۹۹

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم هلناز خرمی فرزند عبدالفرید مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۵۰۰

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم صبغت الله حکیمی فرزند فخر الدین مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۴۹۸

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم سردار محمد محبوبی فرزند نظر محمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۴۹۷

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم روح الله مایار فرزند عبدالحمید مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۴۹۵

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم صدیق الله افغان فرزند واحد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۴۹۴

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم روح الله شریفی فرزند خیر الله مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۴۹۳

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم سعیده صدیقی بنت عطاالحق مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۴۹۱

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم بهرام بنت عنایت الله مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۴۹۲

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم ذکر الله ابراهیمی فرزند رحمت الله مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۴۹۰

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم دلاور احمدزی فرزند شکرخان مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۴۸۹

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم ولی محمد عرب ملا بدل محمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۴۸۶

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم عبدالوهاب سلطانی فرزند حسین علی مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۴۴۹

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم فاطمه یعقوبی بنت قاسم مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۴۴۸

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم سید حشمت الله موسوی فرزند محمد آقا مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۴۴۶

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم مطیع الله صافی فرزند حضرت حسین مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۴۸۱

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم عبدالله صافی فرزند محمد نادر مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۴۸۲

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم بسم الله روفی فرزند عبدالغفور مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۴۸۸

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم وهاب الدین رحیمی فرزند نظام الدین مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۴۸۷

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم کریم قربانی فرزند محمد امیر مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۵۰۵

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم محمد نسیم کبیری فرزند محمد قسیم مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۵۰۴

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم امر الله اسدی فرزند اسد الله مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۵۰۳

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم برهان الدین سلیمی فرزند عبدالبشیر مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۵۰۲

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم خالدار سلطانی فرزند نور الدین مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۵۰۱

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم بریالی ستانکزی فرزند فیروز مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۴۸۵

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم راز محمد فیاض فرزند جان محمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۴۸۴

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم ابراهیم فرزند محمد سعید مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۴۸۳

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم لعل سعید فرزند محمد نور مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۴۸۰

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم میرزا بارکزی فرزند غلام حیدر مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۴۷۹

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم احمد میلادنبی فرزند عبدالطیف مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۴۷۵

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم عبدالصبور شفیق فرزند دین محمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۴۷۷

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم الله محمد فرزند دوست محمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۴۷۸

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم محمد ایوب ایوبی فرزند نظر محمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۴۷۵

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم عثمان عمری فرزند محمد عمر مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۴۷۴

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم مجید امیر محمدی فرزند محمد علی مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۴۷۳

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم اجمل فرزند نذیر مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۴۷۲

تېر کال ستوماتولوژي روغتون کې سلګونه لوی...

نوموړي زیاته کړې، چې د اسلامي امارت په راتګ سره د ستوماتولوژي روغتون کې ډېرى غیرې فعالې څانګې بېرته فعالیتونه پیل کړي، لکه عاجله څانګه، عملیات خونې ته مو د دلایټونو سیستم فعال کړ، تعقیم خونې لپاره نوي ماشینونه نصب شول، عملیات خونه مو په عصري ماشینونو سمبال کړه، د لومړي ځل لپاره ځلور عاجلو څانګې نوی فعالیت پیل کړ، د عصب ښکلو ماشینونه ټولو شعباتو کې فعال شول او داسې نور.

سرطبیب ویلي، چې د لومړي ځل لپاره د ټرینګ ځلور تخصصي ډیپارټمنټونه فعال او په همدې ترتیب ځلور څانګې امپلانټ ،اورتودوسي، پریودونټولوژي او ثابت پروتیز شعبې چې خورا مهمې وې نوې جوړې او عملاً یې پر کار پیل وکړ. هغه ویلي، چې په ستوماتولوژي روغتون کې د اسلامي امارت په راتګ سره د امپلانټ یا په هډوکو کې د غاښونو ایښودلو څانګه فعاله شوې ده.

هغه زیاتوي: په راتلونکي وخت کې پلان لرو چې ستوماتولوژي ملي معالجوي او تخصصي روغتون د سیمې په کچه یو نړیوال روغتون شي؛ همدا شان نوموړي له ټولو خیریه داخلي او بهرنیو موسیساتو څخه غوښتنه وکړه چې روغتون سره په هره برخه کې همکاري وکړي.

له ننګرهاره یو تن ناروغ هارون پاچا ویلي، ډېر خوښ یم، چې عملیات مې په خپل هېواد کې په بریالي توګه وشو، نوموړي زیاته کړې د روغتون ټول روغتیایي پرسونل وخت پر وخت د ناروغانو کتنه او معاینات کوي او موږ ترې خوشحاله یو.

سمیع الله مومند

Shariat Daily

Shariat
Published by
Islamic Emirate of Afghanistan
Eng, Uzair Baryaly . Director of Gov.dailies
0202526340
Chief Editor : M. Munir Farooqi
Email: info@shariatdaily.com
WWW.shariatdaily.com ویب سایت:

شریعت
د دولتي ورځپاڼو رئیس:
انجنیر عُزیر بریالی / ۰۲۰۲۵۲۶۳۴۰
مسئول مدیر: محمد منیر فاروقي / ۰۷۶۴۸۰۸۲۰۵
مسئول سکرتر: خالد افغان/ ۰۷۷۳۰۶۲۸۳۲
د شریعت برښنا لیک: info@shariatdaily.com
پته: اتمه ناحیه، د المپیک څلور لارې، د حضوري چمن ختیځ، کابل ـ افغانستان
شماره توزیع و شکایات: ۰۲۰۲۳۱۲۵۰۹ / ۰۷۶۶۰۴۴۹۶۶ /۰۷۳۱۶۰۶۰۷۳

Wednesday 09 July 2025 / Established: 1995 / 2nd Season / Vol: 798

استرداد بیش از یک‌هزار و ۵۷۰ جریب زمین در غور

هیئت تخنیکی جلوگیری از غصب زمین در ولایت غور، یک‌هزار و ۵۷۰ جریب زمین را در این ولایت استرداد کرده است.
وزارت عدلیه به نشر خبرنامه‌ای از استرداد این مقدار زمین، خبر داده است.
به گفته وزارت عدلیه، زمین‌های استردادشده در قریه «خواجه لشکراه شویچ» ولسوالی الفاروق ولایت غور موقعیت دارد.
در خبرنامه آمده که استرداد زمین‌های یادشده در نتیجه اعتراف متصرفین امارتی تثبیت شده است.
وزارت عدلیه افزوده که هیئت تخنیکی جلوگیری از غصب زمین در ولایت غور فیصله کرده تا زمین‌های استردادشده در بانک زمین‌ها، امارتی ثبت شود.
هرچند در خبرنامه گفته شده که هیئت یادشده در این... ص۲

ملا هدایت‌الله بدری:

اجازه نمی‌دهیم مواد خام فلزی به بیرون از کشور صادر شود

ملا هدایت‌الله بدری، سرپرست وزارت معادن و پترولیم می‌گوید، امارت اسلامی افغانستان اجازه صادرات مواد خام فلزی را به بیرون از کشور نمی‌دهد.
سرپرست وزارت معادن و پترولیم که در مراسم افتتاح کارخانه پروسس «آنتیموان و سرب افغان قرغز» در میدان‌شهر سخن می‌گفت، تاکید کرد که ممانعت از صدور مواد خام فلزی به هدف سرمایه‌گذاری روی کارخانه‌های پروسس این مواد در داخل افغانستان صورت گرفته است.
کارخانه پروسس «آنتیموان و سرب افغان‌قرغز» در گستره‌ای ۲۵ جریب زمین راه‌اندازی و تاکنون ۷۰ درصد کارهای آن به پیش رفته است.
بربنیاد معلومات نشر شده، قرار است کار صد درصدی کارخانه یادشده تا ۵ سال آینده تکمیل و آماده بهره‌برداری شود.
سرمایه‌گذاری روی کارخانه متذکره تا اینجای کار به پنج میلیون دالر امریکایی رسیده است.
در حال حاضر ۴۰۰ تن در کارخانه پروسس «آنتیموان و سرب افغان‌قرغز» بگونه مستقیم سرگرم کار بوده و این رقم تا پایان کار ساخت کارخانه به یک‌هزار تن افزایش خواهد یافت.

کشته و زخمی شدن ۱۹ سرباز اسرائیلی در غزه

اردوی اسرائیل تائید کرده که به تازگی حداقل پنج سربازش در نوار غزه کشته و چهارده تن دیگر آنان زخمی شده‌اند.
خبرگزاری تایمز آف اسرائیل به نقل از اردوی اسرائیل از کشته و زخمی شدند این تعداد از نظامیان اسرائیلی خبر داده است.
به گزارش این رسانه، سربازان پیاده‌نظام اسرائیلی در نتیجه حمله انفجاری در ساحه «بیت حانون» واقع در شمال نوار غزه هدف قرار گرفته‌اند.
بربنیاد معلومات نشرشده، سربازان اسرائیلی در حمله دو مرحله‌ای کشته شده‌اند.
به نوشته این رسانه، ابتدا انفجار رخ داده و زمانی که نظامیان اسرائیلی به کمک همقطاران‌شان رفته‌اند تا کشته و زخمی شده‌ها را منتقل کنند، هدف رگبار گلوله قرار گرفته‌اند.
اردوی اسرائیل گفته که سربازان کشته و زخمی شده سرگرم عملیات برای پاکسازی منطقه «بیت حانون» بوده‌اند.
اخیراً حملات مرگبار بر نظامیان اسرائیلی در بخش‌های مختلف نوار غزه، تشدید شده است.
این در حالی است که امیدواری‌ها برای تحقق آتش‌بس ۶۰ روزه و آغاز گفت‌وگو بر سر توقف جنگ میان اسرائیل و حماس، افزایش یافته است.

د امریکا وروستیو سېلابونو کې د مړو شمېر ۹۶ ته لوړ شوی

د امریکا د تګزاس ایالت چارواکي وايي، چې وروستیو سېلابونو کې د مړو شمېر ۹۶ کسانو ته لوړ شوی دی.
راپورونه ښيي، چې په وژل شویو کسانو کې لسګونه ماشومان هم شامل دي.
ویل‌کېږي، چې د ژغورنې ډلې لا هم د سېلاب له امله د بې‌درکه شویو کسانو د موندلو هڅې کوي.
چارواکي وايي، د سېلابونو له امله ګڼ کورونه ویجاړ شوي او زرګونه خلک بې‌ځایه شوي دي.

امریکا کې وسله وال برید مړګ ژوبله اړولې

د امریکا د فلادلفیا ښار پولیس وايي، د ښار په سوېل کې د یوه تازه وسله‌وال برید له امله درې تنه وژل شوي او ۱۰ نور ټپیان شوي دي.
فاکس نیوز د پولیسو پر حواله راپور ورکړی، چې په دې پېښه کې وژل شوي کسان ځوانان دي او د ټپیانو له ډلې د ځینو روغتیایي وضعیت نازک ښودل شوی دی.
سیمه‌ییز چارواکي وايي، بریدګر له سیمې تښتېدلی او پولیسو یې د نیولو هڅې پیل کړې دي.
دا برید داسې مهال کېږي، چې دوه ورځې وړاندې هم په فلادلفیا کې په یوه بله وسله‌واله پېښه کې ۸ تنه ټپیان شوي وو.
په دې وروستیو کې په امریکا کې د وسله‌والو بریدونو شمېر زیات شوی، چې له امله یې د خلکو اندېښنې ورځ تر بلې ډېرې کړې او د تاوتریخوالي د کنټرول لپاره پر حکومت فشارونه هم زیات شوي دي.

پکتیا کې د غنمو حاصلات زیات شوي

د پکتیا د کرنې ریاست مسئولینو ویلي، چې د دې ولایت د غنمو په سرېنیو حاصلاتو کې د تېرکال په پرتله ۱۵ سلنه زیاتوالی راغلی.
د پکتیا کروندګر د غنمو سرېنیو حاصلاتو ته خوښ دي او وايي، چې سږکال یې حاصلاتو کې د پام وړ زیاتوالی راغلی.
د یاد ولایت بزګران وايي، چې ډېری خلک د غنمو په کرکیله بوخت دي، خو ترڅنګ یې جوار، لوبیا، کچالو او نور حبوبات هم په زیاته پیمانه کرل کېږي.
دوی په یادو برخو کې د همکارۍ غوښتنه کوي.
د پکتیا کرنې ریاست مسئولین وايي، د همکارو موسسو په مرسته یې له بزګرانو سره د غنمو کروندې په وخت کې د اصلاح شویو تخمونو او کیمیاوي سرو مرسته کړې، چې له دې امله سرېنیو حاصلاتو کې هم زیاتوالی څرګندېږي.

بامیانو کې د اوبو رسونې ۷ شبکې جوړې شوې

د بامیانو په مرکز او دویم نمبر یکاولنګ ولسوالۍ کې د اوبو رسولو د ۷ شبکو د جوړېدو چارې بشپړې او ګټې اخیستو ته سپارل شوې دي. د یاد ولایت د کلیو، بیارغونې او پراختیا ریاست د رسنیو مسئول عبدالواحد لایق ویلي، چې یادې شبکې د دویم نمبر یکاولنګ ولسوالۍ اړوند په کتک سیاه در، ده سرخک، جنګلک سرمرغی، سیاه جوبک او سری تسري کلیو او همدارنګه د مرکز اړوند په خلنکاش او پای کوتل قرغنتو کلیو کې د ۴ میلیونه ۳۸۱ زره ۱۵۲ افغانیو په لګښت جوړې او ګټې اخیستو ته سپارل شوې دي. یادې شبکې... ۲مخ

د خواف ـ هرات د وسپنې پټلۍ رغنیزې چارې ۸۷ سلنه بشپړې شوې



د خواف ـ هرات د وسپنې پټلۍ څلورمې قطعې د لومړي فاز رغنیزې چارې ۸۷ سلنه بشپړې شوې دي.
د ټولګټو چارو وزارت ویاند محمد اشرف حق‌شناس وايي، دغه فاز ۴۳ کیلومتره اوږدوالی لري او د یاد وزارت له لوري د یوه قزاقستاني شرکت په همکارۍ رغول کېږي. ۲مخ

وردګو کې د انتیموني او سربو پروسس کارخونه پرانیستل شوه

د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست ملا هدایت‌الله بدري ویلي، اسلامي امارت هڅه کوي چې خام فلزي مواد له هېواده بهر صادر نه شي او پانګوال د پروسس کارخونو جوړولو ته وهڅول شي.
نوموړي دا څرګندونې د وردګو ولایت مرکز میدان ښار کې د «افغان قرغز د انتیموني او سربو پروسس» کارخونې د پرانیستې پر مهال کړې دي.
په یاده پروژه کې تر دې مهاله پنځه میلیونه امریکایي ډالر پانګونه شوې او ۷۰ سلنه رغنیزې چارې یې بشپړې شوې دي. ۲مخ

اطلاعیه تصمیم اعطای قرارداد

بدینوسیله به تأسی از فقره ۲ ماده ۴۳ قانون تدارکات به اطلاع عموم رسانیده می‌شود. وزارت اطلاعات و فرهنگ در نظر دارد، قرارداد ترمیمات حفاظتی آبده تاریخی مسجد ناحیه اول قریه اطمانیه و زیارت الف شاه صاحب ولایت پکتیا برای سال مالی ۱٤۰٤ مورد نیاز وزارت اطلاعات و فرهنگ با کود نمبر MOIC/W-4/NCB/1404 را به شرکت ساختمانی ارشاد خالص دارای جواز نمبر (D-31602) می‌باشد به قیمت مجموعی مبلغ ۳۷۲٦۰۸٤،۸ سه میلیون و هفت صد و بیست و شش هزار و هشتاد چهار اعشایه هشت افغانی اعطا نمایند.
اشخاص حقیقی و حکمی که هر گونه اعتراض در زمینه داشته باشند، می‌توانند اعتراض خویش را از تاریخ نشر اعلان الی ۷ روز تقویمی طور کتبی توأم با دلایل آن‌را به معینیت گرځندوی، مالی و اداری، آمریت تدارکات واقع چهار راهی ملک اصغر، رو به روی وزارت امور خارجه، وزارت اطلاعات و فرهنگ وفق احکام ماده پنجاه قانون تدارکات ارائه نمایید.
این اطلاعیه به معنی عقد قرارداد نبوده و الی تکمیل میعاد فوق‌الذکر و طی مراحل قانونی بعدی، قراداد منعقد نخواهند شد.